# مطبوعاتي اعلاميه

## په سویلي یمن کې د تازه شخړې مخنیوی

د جنوبي انتقالي شورا له خوا د ۲۰۲۰م کال د اپرېل په ۴مه د یوې خپره شوې اعلامیې په ترڅ کې د عدن د موقتي پلازمېنې سربېره په ټولو ولایتونو کې بېړنی حالت اعلان شو، د جنوبي یمن لپاره خپله اداره اعلان شوه. د جنوبي انتقالي شورا له لوري د دغه اقدام په اړه د اعلامیې د اعلان له لومړۍ ورځې راهیسې غبرګونونه منفي وو، تر ټول مهم دا چې په یمن کې د امریکا سفیر کریسټوفر هنزیل وویل: «دا ډول یو اړخیز اقدامات نه شي کولای د یمن ثبات ته لاره پرانیزي. هغه انتقالي اقدامات «یوازې بې ثباتي» او په ځانګړې توګه یې هغه وخت بې کفایته وبلل چې دغه هېواد د کووېډ-۱۹ له خوا ګواښل شوی و، ګواښ یې وکړ چې د سیاسي خبرو اترو د بیا ژوندي کولو لپاره د ملګرو ملتونو استازی مارټین ګریفیتس هڅې به هم پېچلې کړي...» له انتقالي شورا یې وغوښتل چې د ریاض تړون سره سم سیاسي پروسې ته راستون شي.

په دې سره برېتانیا پلوه امارات، امریکا پلوه عربستان ته د چاړې منډلو چل ښیي. برېتانیا په دې پوهېږي، چې په یمن کې سیاسي کنټرول د امریکا په ملاتړ د سویلي غورځنګ په رامنځ ته کولو سره، له متحده عربي اماراتو څخه خپل اجنټ ځواکونه وباسي او امریکایي اجنټ سعودي ځواکونو ته بیرغ سپاري - په دې توګه برېتانیا هڅه کوي چې د سویلي انتقالي شورا (STC) له لارې خپل سیاسي کنټرول تر لاسه کړي، وروسته له دې چې امریکا حوثیانو ته د صنعا کنټرول ورکړ، دوی د برېتانیا سیاسي کنټرول د له منځه وړلو هڅې وکړې.

د یمن د بیا وېش تخم د یمن په شمال او د سویلي انتقالي شورا، چې د یمن د خلکو احساسات ټکوي، د امریکایي اجنټانو لپاره د حوثیانو د غوښتنې تر منځ وده کړې، نو ځکه برېتانیا په سویل کې خپل کنټرول ساتي. د یمن په اړه شخړه د پخوانۍ او نوې استعماري امریکا د دوو قطبونو تر منځ غوټه پاتې شوې ده، حزب التحریر ځو ځله د یمن خلکو ته د دې شخړې د پلانونو په اړه اخطار ورکړی و.

د یمن خلکو د ناوړه معیشت له امله خپله لاره ورکه کړې، چې اوسنیو واکمنو رژیمونو د استعمار ځای نیولی او د  دې پر ځای چې د اسلام حاکمیت چې له ترهګرۍ سره مبارزه کوي بېرته راوګرځوي، دوی دا غوره بللې چې د الله سبحانه و تعالی له حکم پرته حکومت وکړي، د یمن خلکو له دې څخه ډېر زیانمن شوي دي. الله سبحانه و تعالی فرمايي:

**[وَمَنْ أَعْرَضَ عَن ذِكْرِي فَإِنَّ لَهُ مَعِيشَةً ضَنكاً وَنَحْشُرُهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ أَعْمَى]**

***ژباړه: «او څوک چې زما له ذکر څخه مخ واړوي، د هغه لپاره به په دنیا کې تنګ ژوند وي او د قیامت په ورځ به موږ هغه ړوند راپاڅوو» [طه: ۱۲۴]***

په ورته وخت کې، ایا یمن به د رواني شخړې په رڼا کې ورک شي، یا لا هم په خپلو خلکو کې د نېکۍ تخم کري؛ ځکه چې دوی په لومړیو وختونو کې د اسلام ملاتړ وکړ او په مدینه منوره کې یې اسلامي دولت تاسیس کړ، نو دوی به نن هم هغې بریا ته ستنېدل

غواړي چې پخوا يې تر لاسه کړې وه، د حزب التحرير په مشرۍ دي د ملاتړ لپاره متې راونغاړي، چې غواړي د رسول الله صلی الله عليه وسلم پر منهج راشده خلافت تاسيس کړي، تر څو په اسلام سره حکم وکړي او اسلامي خاوري سره يو ځای کړي.

**د حزب التحرير- ولايه يمن مطبوعاتي دفتر**

**۱۴۴۱ هـ.ق کال، د رمضان ۱۲مه**

**۲۰۲۰م کال، د مې ۵مه**

**د صدور گڼه: ۱۹/ ۱۴۴۱**